


**د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!**

---

**ايمل « مړوند »**
**د نشر نېټه : ۸ دسمبر ۲۰۱۲ میلادی**

## ختيځ ادبي بهير استاد يارمحمد «کوچی» ونمانځه







لوستوني وباسي ګډېږي
داسې سخت په خوارو کله کله وينه

**دا لنډۍ استاد يارمحمد کوچي په هغه پرتمينه غونډه کې وويله، چې د نوموړي په درناوي کې جوړه شوې وه.**

---

هره ليکنه د ليکوال خپل نظر دی او خپله دليکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سايت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعيد افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است

ختیځ ادبي بهیر ملګرو د خپلو اونیزو غونډو په لړ کې خپله (۲۱) مه غونډه د استاد یارمحمد کوچي نمانځلو ته ځانګړې کړې وه .
د درانه استاد یارمحمد کوچي په ویاړ دغه ستره او پرتمینه غونډه د ( ۱۳۹۱) کال د لیندۍ میاشتې په ( ۱۷) مه نیټه د جمعې په مبارکه ورځ د ننګرهار په علمي او کلتوري مرګز میدوتیک کې جوړه شوې وه .





غونډه، چې سهار نهه بجې پیل او تر غرمه ناوخته پورې یې دوام درلودو، د ننګرهار پوهنتون د استادانو، د ختیځو ولایتونو د فرهنګیانو او د ادب مینوالو سربیره په کې د هیواد له ځینو نورو سیمو راغلو ملګرو هم برخه اخیستې وه .

د دې ترڅنګ د کوچي استاد په ویاړ په جوړه شوې غونډه کې د پوهنې وزارت تخنیکې مرستیال محمد اصف ننګ هم ګډون کړی و.
د غونډې پرانیسته قاري عبدالله سهار د قران کریم د څو مبارکو ایاتونو پرتلاوت وکړه . د دریځ چارې اکرام الله اکرام او عرفان بیدار مخکې ورلې او ګزارش ایمل مرووند لیکه.

په پیل کې د ختیځ ادبي بهیر ملګرو په استازیتوب ضیاالدین همت مل ټولو راغلو میلمنو او برخوالو ته ښه راغلاست وواېه ، او خوښې یې څرګنده کړه، چې ختیځ ادبي بهیر د داسې یوې سترې او درنې غونډې د کوربتوب ویاړ لري .

لونګۍ د استاد ابراهیم همکار، استاد ببرک میاخیل، او ځینو نورو او بیا د بهیروالو لخوا د درناوي برخوالو لخوا استاد یارمحمد کوچي ته په سر کېښودل شوه .

وریسې د استاد یارمحمد کوچي پېژندنه انجینر زیارمل سوکال ولوسته او برخوالو ته یې د استاد کوچي د ژوند او فن په اړه معلومات ورکړل.

د استاد تر پیژندګولو ورسته د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاد ببرک میاخیل دریځ ته پورته شو نوموړي په سرکي د بهیروالو نه د زړه له تله مننه وکړه، چې د استاد یارمحمد کوچي په ویاړ یې داسې یوه درنه غونډ رابللې ده.ا ستا میاخیل استاد کوچي د پوهنې او ادب یو بل مشال وباله، چې تردې دمه یې ډېرو خونو ته رڼا ورکړې ده، او هغه یې د نمانځلو حقدار یاد کړ.







د دې ترځنګ استاد میاخیل د کوچي استاد په ادبي او فرهنګي ژوند خبرې وکړې، او استاد کوچي یې د حالاتو یو انځور ګر شاعر یاد کړ، نوموړي  د استاد د شعرونو د بیلګو په راوړلو سره د استاد کوچي شعرونه ګډنوالو ته تشریح کړل .

استاد میاخیل وویل:

(( استاد کوچی د خوشال د دستار سړی دی، استاد شاعر دی او استاد ښونکی دی.استاد چې د خپل ښونیز ژوند په بهیر کې کوم شاګردان روزلي دي نن سبا تول په ډېرو ښو ښو ځایونو کې دندې لري او د ټولنې په چوپړ کې دي، چې دا د استاد لپاره د ویاړ ځای دی .))

د استاد میاخیل تر خبرو ورسته د ننګرهار د عالي درالمعلیمن د پښتو څانګې استاد ضیاالرحمن حسرت دریځ ته وبلل شو.

استاد حسرت هم په سرکې د بهیروالو د دې ګام ستاینه وکړه، چې د داسې یوې ادبي او فرهنګي ستې په ویاړ سره راټول شوي دي.

نوموړي وویل: ډېر د خوښۍ ځای دی، چې نن زموږ ځوانان فرهنګیان د داسې یوچا په ویاړ غونډه جوړوي او هغه ته په ژوند د هغه د خدمتونو ډالۍ ورکوي، چې نه زرو لري او نه هم زر، خو د خلکو په زړنو واک چلوي.

هغه وویل: کوچی استاد د یوې امسا پرته بل څه نه لري، خو د خپل ژوند ګڼ پسرلي  یې د دې ټولنې د خدمت لپاره ځانګړي کړي دي.

استاد حسرت همدارنګه د استاد یارمحمد کوچي د شاعرۍ په اړه هم ډېرې په زړه پورې  خبرې وکړې او د استاد د شاعرۍ په تخنیکي اړخونو وګړیده.

ښاغلي حسرت وویل: د استاد یو کمال دادی، چې په شاعرۍ کې یې د ادبي فنون نه ډېر کار اخیستی دی او شاید لامل یې داوي،  چې دی خپله د ادبیاتو استاد او له ادبیاتو فارغ  دی.

استاد حسرت د ادبي او تخنیکي اړخه د استاد په شاعرۍ اوږدې خبرې وکړې، او هم یې د استاد په شاعرۍ کې د مینې اړخ برخوالو ته ښکاره کړ.







هغه استاد د خپل وخت یو بریالی شاعر یاد کړ، او د روانو حالاتو یو ښه انځورګر یې ونومولو تر استاد حسرت ورسته د استاد یو زده کونکي عبدالصبور ټکر د استاد په ویاړ خپل لیکلی شعر برخوالو ته واورلو  چې مطلع یې داسې وه :

ستا نه زار شم ستانه زار استاد  کوچیه !
خدای دې مه کړه راته خوار استاد کوچیه!

وروسې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي استاد ابراهیم همکار دریځ ته پورته شو. استاد هم په سرکي د بهیروالو نه مننه وکړه، چې داسې یوه درنه غونډه یې جوړه کړې ده .

استاد همکار هم د کوچي استاد فرهنګي او ادبي هڅې وستایلې او هغه یې  د ادب  او پوهنې  یوه بل ځراغ  یاد کړ، زیاته یې کړه استادې، چې یو سپېڅلې دنده ده ، استاد کوچي د ژوند تردې دمه خپله دغه دنده په ډېره سپیڅلتیا مخکې وړې ده.

استاد همکار د پوهنې په برخه کې د هغه د خدمت سربیره د استاد کوچي،  د شاعرۍ په اړه هم هر اړخیزې خبرې وکړې.او استاد یې یو لاربښود شاعر یاد کړ.
تر استاد همکار ورسته د ننګرهار پوهنتون د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ریس اورنګ صیم ته نوبت ورکړل شو. ښاعلي صمیم هم په پیل کې د ختیځ ادبي بهیر د دې ګام په پورته کولو، چې د استاد کوچي په ویاړ یې داسې درنه غونډه جوړه کړې ده مننه او ستاینه وکړه .

او استاد کوچي یې د ننګرهار ویاړ وباله، زیاته یې کړه، چې استاد تردې دمه  فرهنګ او پوهنې ته ډېر څه ورکړي دي چې له امله یې موږ ټول پرې ویاړو. ښاعلي صمیم وویل:
(( د راتلونکی لپاره د استاد کوچي ژوند او شخصت موږ ته یوه ښه بیلګه جوړیدا شي ))

داورنګ صیم په وینا استاد کوچي ټول عمر د خلکو په زړونو راج کړی دی، او په زړونو کې اوسیدلی او اوسیږي به هغه د استاد د ژوند اوفن په اړه هراړخیزې خبرې وکړې او استاد یې تر دې د څوچنده زیات اعزاز وړ وباله ..
نومړي وویل: د کلتور ریاست د استاد کوچي د ښو خدمتونو له امله د هغه لپاره یو ستاینلیک هم په نظر کې لري، چې د یو لړځانګړو مراسمو په ترځ کې به ورکړل شي.

هره  لیکنه  د لیکوال خپل نظر  دی  او خپله  دلیکوال اند  ځرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارګان نشراتی  صلح و تفاهم  سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است






د اورنګ صیم تر خبرو ورسته استاد محمد یوسف غیرت د استاد کوچي د ژوند او ښونیزو هڅو په اړه خپله لیکلي مقاله واوروله .

او بیا د پوهنې وزارت تخنیکي او پرهنګي معین اصف ننګ په خپلو خبرو کې وویل : کابل ته روان و، خو، چې خبر شو، چې د پوهنې د یو داسې مشال، چې کلونو یې نورو ته رڼا ورکړې ده په ویاړ غونډه ده، راستون شو او په غونډه کې یې ګډون اړین وباله .

هغه وویل: ډېر د خوښۍ ځای دی ، چې نن د پوهنې د یو استاد او مشال په غونډه کې ګډون لري.
زیاته یې کړه په داسې حالاتو کې، چې په ټول هیواد کې داسې غونډې ډېرې کمې دي، چې زموږ یو استاد دې پکې ونمانځل شي.
نوموړي د پوهنې وزارت په استازولی د استاد د خدمتونو ستاینه وکړه او د وزارت په استازولی یې د استاد نه مننه وکړه، چې لا هم د پوهنې په برخه کې په هڅو بوخت دی.

ورپسې امرالله امید خپله لیکلې مقاله، چې د استاد د ژوند او فن په اړه یې لیکل وه ولوستله .

تر امرالله امید ورسته تکړه شاعر او لیکوال عزت الله ځواب په خپلو خبرو کې د استاد په ژوند خبرې وکړې. ځواب وویل: کوچی استاد یې د ښونځي استاد پاتې شوی دی :

نوموړي استاد کوچی یو ملي شخصیت یاد کړ او وې ویل : استاد په هغه وخت کې، چې چا ملي کلیمه په خوله هم نه شوه ویلی، خو استاد خلک په ملي روحیه روزل .

چې د زده کړو پرمهال یې له استاد څخه درلودلې هغه استاد ځواب د استاد ځینې خاطرې یادې کړې، د خپل ژوند یو ستر لاربښود وباله .

تر ځواب ورسته د اریانا پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد شیرعالم املوال په خپلو خبرو کې وویل : چې د دا ډول شخصتونو نمانځل او ستایل د نوي نسل لپاره یو ښه تشویق او هڅونه ده نوموړي د بهیر دا ګام یو ډېر پرځای ګام وباله.وې ویل ، کله، چې نوي ځوانان د داسې شحصتونو د ستایلو غونډې ګوري نو لا هڅیږي، چې ځانونه یو ځای ته ورسوي.







د استاد املوال تر خبرو ورسته خوږ ژبي ترنم کونکي صابر شاه ساپي ګدونوالو ته د استاد کوچي یو شعر د ترنم په خوږو کې وویلو، چې د بهیروالو د تود هرکلي سره مخ شو.
صیام الدین پسرلي د پوهني ریاست د ویاند اصف شینواري د ( د دستار سړي) ترسرلیک لاندې مقاله ولوستله، چې د استاد کوچي د ښونیز ژوند او فن په اړه په کې معلومات وړاندې شوي وو.

همدارنګه د استا غني فاروقي لیکلې مقاله سمیع الله ننګیال ولوستله.

د غونډې په اوږدو کې د استاد یارمحمد کوچي درنې لور” زرکې” کوچۍ د استاد د کورنۍ په استازولۍ د بهیروالو مننه وکړه، چې استاد کوچي ته یې د داسې یودرنې غونډې د جوړیدلو ویاړ ورپه برخه کړ.
د یادو شو کسانو سربیره په غونډه کې یوشمیر نورو کسانو هم استاد ته ځانګړې شوې شعرونه او د هغه په ویاړ لیکلې مقالې او ویناوې وارولې.

په پای کې خپله دروند استاد یارمحمد کوچي ته بلنه ورکړل شوه .
نوموړي، چې ډېر زیات د خوښۍ احساس یې کولو د خپلو خبرو پیل د پښتو ژبې په دې لنډۍ وکړ، چې وایي:

لستوني وباسئ ګډیږئ
داسې ساعت په خوارو کله کله وینه





استاد د ټولو بهیروالو نه د زړه له تله مننه وکړه، چې دی یې ور وباله او دومره درنښت یې ور کړ.
وې ویل : نن ډېر زیات خوشاله دی، چې د خپل ژوند په دې پړاو کې داسې یو ناستې شاهد دی .
استاد په داسې حالت، کې، چې په سترګو کې یې د مینې او خوښۍ نښې له ورایه ښکاریدې په بار بار له بهیروالو مننه کوله او د خوشالې اظهار یې کولو .
ښاغلي استاد ننګرهار د علم او فرهنګ ټابوبی یاد کړ، او تینګار یې وکړ، چې ځوانان دې سره یو موټې شي او د خپلو ارزښتونو درناوی دې وکړي .
د یارمحمد کوچې ترخبرو ورسته د نوموړي په ویاړ دا جوړه شوې غونډه هم غرمه ناوخته پای ته ورسیده .







د ویلو ده، چې د ختیځ ادبي بهیر راتلونکې اونیزه غونډه د اروښاد ډاکټر اعظم یاد غونډې ته ځانګړې شوې ده او د هغه په غزل په طرحیه مشاعره کیږي .
لاړ که مې نظر شي زه به ستالارې ته ګورم




**گزارشگر ایمل « مروند »**



هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است